# سَتَكُونُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ عَرَفَ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ

د مؤمنانو له مور ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «سَتَكُونُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ عَرَفَ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ» قَالُوا: أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ: «لَا، مَا صَلَّوْا». «ژر دی چې تاسو به واکمنان وګورئ نو له ځینو کارونو سره به یې تاسو بلد یاست او ځینې نور به یې ردوئ، نو چا چې وپېژندل خلاص شو، او چا چې انکار وکړ نو هغه جوړ پاتې شو، خو هغه څوک چې پرې خوشحاله شو او پیروي یې وکړه» نو هغوی وویل: آیا مونږ ورسره ونه جنګیږو؟ هغه وفرمایل: نه، تر «څو چې لمونځ کوي.

[صحیح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې پر مونږ به واکمنان وګمارل شي، چې مونږ به یې ځینې عملونه پیژنو؛ چې د شریعت سره سمون لري، او د دوی له ځینو کارونو به انکار کوو، ځکه چې د شریعت خلاف دی، نو چا چې منکر کار په زړه کې بد وګاڼه پداسې حال کې چې منع کول به یې په وسه کې نه وه، نو له ګناه او منافقت څخه وژغورل شو، او چا چې کولی شو په لاس او یا ژبه یې منع کړي، نو هغوی پرې رد وکړ، نو دی له ګناه کولو او یا پکې له ګډون کولو څخه سالم پاتې شو. خو چا یې چې په کړنو خوښي څرګنده کړه او له هغوی څخه یې پیروي وکړه، نو دوی به هم هلاک شي لکه څرنګه چې هغوی هلاک شول. بیا دوی له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې، آیا د همداسې واکمنانو سره ونه جنګیږو چې دا صفتونه ولري؟ نو هغه لدې کار څخه منع کړل، او ویې وییل: نه، تر هغه پورې چې په تاسو کې لمونځونه قایموي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3481